جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

دافغانستان اسلامي جمهوريت
دټاکنيزو شکايتونو کميسيون

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

# د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون مطبوعاتي اعلاميه

کابل ښار : ۱۳۸۹/۴/۱۶

په غير قانوني وسله والو ډلو کې د کانديدانو قوماندانې يا غړيتوب د چارو د څيړنو کميسيون(د ټاکنو د خپلواک کميسيون پورې اړوند کميسيون ) ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ته د د رسمي ليست په استولو سره د ولسي جرګې د ټاکنو ۳۱ تنه نوماندان د غير قانوني وسله والو ډلو غړي پيژندلي دي. ددغه کميسيون د رسيمي ليک پر بنسټ د غير قانوني ډلو سره د تړاو په تور تورنو نوماندانو ونشو کړای د قانوني مهلت په موده کې ، چې د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون لخوا دوی ته ورکړ شوی وه ، په غير قانوني وسله والو ډ لو کې د کانديدانو قومنداني يا غړيتوب د چارو د څيړنو کميسيون پر وړاندې له ځان څخه دفاع وکړي او د برائت سند لاس ته راوړي ،په همدې اساس د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون دغه نوماندان چې د غير قانوني وسله والو ډلو سره د غړيتوب په تور تورن پيژندل شوي د ټاکنو د قانون د دولسمې مادې د اوم بند پر بنسټ د نوماندۍ د حق څخه محروم ګني او د ټاکنو خپلواک کميسيون ته خبر ورکوي ،چې ددغې اعلامې د خپريدو وروسته د هغوی نومونه د ولسي جرګې د ټاکنو د وروستي ليست څخه حذف کړي.

د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون